SHARIAT WEEKLY

شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

څلورم کال يوځلويښتمه ګڼه پرله پسې (۲۳۱) چهارشنبه د ۱٤۲۰هـ ق کال د صفر المظفر (۲۵) د۱۳۷۸هـ ش کال د غبرګولي دمياشتي(۱۹) د۱۹۹۹ميلادي کال د جون (۹)

مسعود

دخيلو ارونډو مليشو کورنۍ کولاب ته استوي

د روسي، هند او فرانسي په مرسته په کولاب کې د هغوی لپاره اوه زره کوروونه جوړېږي

د پېښور سهار ورځپاڼې د باوري خبرځاېونو له خولې خبر ورکړېدي چې د روسيې ، هند او فرانسي په مالي مرسته هغو اووه زره کورنيو ته چې افراد يې د احمد شاه مسعود تر قوماندې لاندې د افغانستان د

اسلامي امارت پر خلاف جګړه کې فعال رول لري د تاجکستان دکولاب په سيمه کې د استوګنې د کوروونو د جوړولو پراخ پروګرام په پام کې نيول شويدي.

ورځپاڼه زياتوي چې دغه پراخ پروګرام د

مسعود تر څارنې لاندې دوام لري او په عملي توګه د روسيې ، هند او فرانسي په مالي مرسته د تاجکستان هيواد د کولاب په سيمه کې پيل شويدي.

په دې پروګرام کې د هغو قوماندانانو

٤ مخ

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسې ! ، همدا (عدل) ډيرنږدې دی تقوا(پرهيزګاری) ته .

(سورة المائدة)

توجه !

ايمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنين کلمات مقدس را بې حرمتي بگذاريد.

د عاليقدر امير المؤمنين د لارښوونې په اساس :

د املاکو د پاکنې، تثبيت ، تشخيص او تميز د موظف هيأت لمړنۍ غونډه جوړه شوه

د املاکو د پاکنې تثبيت ، تشخيص او تميز په مقصد د موظف هيأت غونډه پرون د عدليې وزارت د سرپرست محترم الحاج ملا نور الدين ترابي په مشرۍ ددغه وزارت په مقر کې جوړه شوه .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ دغه هيأت چې د عاليقدر امير المؤمنين له لارښوونې او د سرپرستي شورا د محترم مقام له حکم سره سم د عدليې وزارت د محترم سرپرست په مشرۍ او د کرنې وزارت د معين محترم ملا عتيق الله اخند د مشرۍ محکمې د استازي محترم مولوي محمد موسی د عدليې وزارت د امارت د قضاياوو د رئيس محترم مولوي عبدالوارث حقاني او د ځمکې د څېړنو او نقشې اخيستنې ؛ ص ٤

د سرپرستي شورا محترم مرستيال د پنځه ويشتمې فرقې قوماندان ته په خطاب کې :

د افغانستان اسلامي امارت د ولس له منځه راپورته شوی او د هيواد د مسلمانو خلکو په خدمت کې دی

هر پوځي او ملکي مسؤل او کار کوونکي ته لازمه ده چې په آګاهانه توګه د اسلامي نظام دفاع وکړي

د اردو منسوبين د شهيدانو د ارمانونو او د هيواد د مقدس حريم ساتونکي دي

د سرپرستي شورا مرستيال محترم مولوي عبدالکبير پرون له غرمې مخکې د خپل کار په دفتر کې د خوست ولايت د پنځه ويشتمې فرقې قوماندان د کتنې لپاره خپل حضور ته ومانه .

د سرپرستي شورا مطبوعاتي دفتر د باختر اطلاعاتي آژانس ته خبر ورکړ

ددغې کتنې په ترڅ کې لومړي د خوست د پنځه ويشتمې فرقې قوماندان محترم ملا داد محمد خنجري ددغې فرقې د قطعو او جزوتامونو د منسوبينو د قوي جنګي مورال او لوړو وظيفوي احضاراتو

په باب يو رپوټ وړاندې کړ ـ ده يې ورکړ چې د اسلامي امارت د واکمنو مقاماتو له لارښوونو سره سم د دين وطن او مؤمنو خلکو د دښمنانو د هر ډول دسيسو د شنډولو لپاره تيار دي او د اسلامي امارت

د لوړو هدفونو په تطبيق کې له هيڅ ډول هلو ځلو نه ډډه نه کوي .

ده زياته کړه د خوست ولايت خلک ټل د اسلامي امارت له پوځي او ملکي مسؤلينو او منسوبينو سره همکار دي

او ددغو د اجرا کولو په لاره کې يې ټل وړتيا ښوولې ده او ښيي يې.

وروسته د سرپرستي شورا مرستيال محترم مولوي عبدالکبير ددغه قوماندان د رپوټ له څېړنې وروسته د وينا په ترڅ کې وويل: د افغانستان اسلامي امارت د افغانستان له مسلمانو خلکو نه ٤ مخ

شرکت مخابراتی بی سیم افغان رسماً بکار آغاز نمود

شرکت مخابراتي بي سيم افغان با تدوير مجمع عمومي ديروز رسماً بکار آغاز نمود.

آژانس اطلاعاتي باختر

خبرميدهد : در محفليکه به همين مناسبت در وزارت مخابرات بعد از ظهر ديروز تدوير يافته بود ابتداء آياتي متبرکه قرآن عظيم الشأن

قرائت گرديد متعاقباً محترم ملا الذين داد «طيب» معين وزارت مخابرات در رابطه به ضرورت ايجاد شرکت مخابراتي بي سيم افغان در شرايط

کنوني کشور و اهميت سيستم مخابراتي عصري در جامعه بشري صحبت نموده انکشاف سريع سيستم هاي مخابراتي از ص ٤

رياست تصدي ملي بس اکنون با ۸۵ عراده سرويس فعال در خدمت هموطنان عزيز قرار دارد

محترم رئيس تصدي ملي بس

شريعت : غرض آگاهي هموطنان عزيز از چگونگي حالت رياست تصدي ملي بس خبرنگار ما از محترم الحاج

ملا عبدالقيوم آخند رئيس آن اداره خواهان معلومات گرديد که موصوف در زمينه چنين معلومات ارائه داشتند.

رياست تصدي ملي بس در سال ۱۳۵٤ با داشتن ۱۷۶ عراده موتر سرويس «تاتا» جهت خدمت به شهريان محترم شهر کابل و ص ٤

د کابل په مسلخ کې د ښار د قصابانو مالونه تر صحي معاينې وروسته حلالېږي

شريعت : د کابل ښار په مسلخ کې د ښار د قصابانو مالونه تر معاينې وروسته په صحي طريقه حلالېږي . دا مطلب د کابل مسلخ يو تن مسؤل زموږ خبريال ته

څرګند کړ او زياته يې کړه : هره ورځ د کابل سار قصابان د خپلو مالونو د حلالولو لپاره مسلخ ته مراجعه کوي تقريباً هره ورځ دلته ۱۲۰ پسونه ۱۲ غوايان او پنځه اوښان د ذبحې لپاره راوستل کيږي ٤ مخ

د ننګرهار د طب پوهنځي په روغتون کې د وينې بانک پرانستل شو

شريعت : د ننګرهار د طب پوهنځي په روغتون کې د وينې بانک د يو لړ مراسمو په ترڅ کې پرانستل شو . په هغه غونډه کې چې په دغه روغتون کې جوړه شوې وه د خښځ زون د تنظيمه رياست

مرستيال محترم مولوي صدراعظم هم ګډون کړی ؤ د روغتون مسؤل محترم ډاکتر عبدالستار په دې هکله وويل : زموږ روغتون تر اوسه د وينې بانک نه درلود چې د عاجلو پېښو په وخت يې ص ٤

از درک عوايد حق العبور تورخم ماهانه مبلغ ۳۶۰ مليون افغاني بدست مي آيد

شريعت : ماهانه در حدود ۳۶۰ مليون افغاني از درک عوايد حق العبور تورخم بدست مي آيد .

اين مطلب را يکتن از مسؤولين سرحدداري تورخم به خبرنگار ما

معلومات دادند . موصوف علاوه نمودند در رژيم گذشت عوايد مذکور به سرمايه هاي شخصي حکام وقت افزوده مي شد اما الحمد لله اکنون با تحکيم نظام اسلامي در کشور مبلغ فوق تحويل بيت المال ميگردد . ص ٤

در کلينيک حمايه طفل و مادر کارته سه ۲٤ تن از پرسونل طبی اناث مصروف خدمت ميباشند

سلسله تربيه دايه هاي محلي در کلينيک ما جريان دارد

دکتورس عابده «سخا»

شريعت : کلينيک «حمايه طفل و مادر» کارته سه از آغاز سال ۱۳۶۵ بدين سو شروع به فعاليت نموده و همين اکنون به همکاري وزارت صحت عامه امارت اسلامي افغانستان و مساعدت موسسه

IAM با داشتن پرسونل ملکي اناث در بخش هاي جداګانه همه روزه از ساعت هشت صبح الي دو بعد از ظهر مصروف خدمت براي مادران و اطفال کشور مي باشد. محترمه دکتورس عابده «سخا» آمره

کلينيک مذکور به ارتباط فعاليت هاي شان به خبرنگار ما چنين معلومات ارائه نمودند :

کلينيک حمايه طفل و مادر کارته سه داراي بخش هاي عمده و مختلف ميباشد که عبارتند از :

ص ٤

در شفاخانه صحت طفل روزانه در حدود هزار تن مريض معاينه و تداوي ميگردد

محترم رئيس شفاخانه صحت طفل

يك منبع مسؤول به خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر گفت : فعاليت چشمگير شفاخانه صحت طفل در حال حاضر با توجه به خسارات وارده ناشي

از جنگهاي بي مفهوم رژيم قبلي که به مليارد ها افغاني ميرسد قابل توجه بوده که در نتيجه اقدامات نيك و سازنده امارت اسلامي و توجه مسؤولين وزارت ص ٤

د ماشومانو لپاره د دارالمساکين د جوړولو واليبار ترتيب شو

د اسلامي امارت د ارشاد د چارو د پښه والي کميسيون د هغې غونډې په ترڅ کې چې پرون د پوهنې وزارت په مقر کې جوړه شوه د ماشومانو د دارالمساکين د جوړېدو په موضوع هر اړخيزې خبرې وکړې او په دغه برخه کې يې د سرپرستي شورا محترم مقام ته يوه مصوبه وړاندې کړيده .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ دغه کميسيون د پوهنې وزارت د معين او کفيل محترم مولوي عبدالسلام حنفي په مشرۍ د اړونده وزارتونو د واکمنو استازو په ګډون د پوهنې وزارت په مقر کې غونډه وکړه چې هغې په بهير کې يې د کار او ټولېزو چارو د عمومي رياست په موضوع چې د ماشومانو د دارالمساکين د جوړېدلو په اړوند د ص ٤

د بهسودو د ولسوالۍ د خلکو د ستونزو د لرې کولو په خاطر يوه غونډه جوړه شوه

د ميدان وردګ ولايت د بهسودو ولسوالۍ د خلکو د سيمه ييزو ستونزو او مشکلاتو د لرې کولو په خاطر په دې وروستيو وختو کې په دغې

ولسوالۍ کې يوه غونډه جوړه شوه .

د باختر اطلاعاتي آژانس د خبريال د خبر له مخې په هغې غونډه کې چې د ميدان وردګ ولايت يو شمير ٤ مخ

کميسيون اقتصادي ا.ا.ا تشکيل جلسه نمود

جلسه کميسيون اقتصادي ا.ا.ا ديروز در مقر وزارت پلان تدوير يافت .

اژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد : جلسه متذکره که تحت رياست محترم قاري دين محمد «حنيف» سرپرست وزارت پلان با شرکت محترم مولوي احمد جان سرپرست وزارت معادن و صنايع ، محترم ملا عبداللطيف منصور سرپرست

ص ٤

د هرات په ولايت کې د خيابان غږ په نامه يو ستره مشاعره جوړه شوه

د هرات ولايت د قصر په تالار کې پرون د خيابان غږ په نامه يوه ستره مشاعره جوړه شوه .

د هرات له ښار نه د باختر د اطلاعاتي آژانس خبريال خبر راکړ

په دې مشاعره کې د هرات ولايت ګڼ شمير شاعرانو ليکوالو ، اديبانو فرهنګيانواو ددغه ولايت د بېلا بېلو ځانګو چارواکو برخه اخيستې وه په پيل کې د قرآن عظيم الشأن څو مبارک ٤ مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د قبرص د غونډې په اړه د ملت اندېښنې

د تيرې شنبې په ورځ چې د روان هجري لمريز کال د غبرګولي له پنځلسمې او د هجري سپوږميز کال د صفر المظفر له يوويشتمې سره سمون لري د قبرص په نالارکې ښار کې په اصطلاح د افغان لانجې د حل په نوم يوه فرمايشي ناسته جوړه شوه، دا غونډه لکه څرنګه چې ترې هيله ګيده هماغسې يې ګټې او پرته له کوم ګټور پريکړه ليك پای ته ورسيده.

دا يو واقعيت دی چې د افغانستان په تير شل کلن تاريخ کې افغانان دومره ځوريدلي او کړيدلي چې هغه د چا خبره اوس د شيدو په ځاى مستې هم پوکوي. په دې موده کې افغانان د سولې او افغان لانجې ته د حل تر عنوانونو لاندې د لسګونو غونډو شاهدان دي چې بې نتيجې پای ته رسيدې اوس ۲ مخ

اهالي متدين ولسوالي قلعه زال ولايت کندز به پشتيباني کامل شان از امارت اسلامي افغانستان تاکيد ورزيدند

علما ، موسفيدان و اهالي ولسوالي قلعه زال ولايت کندز ديروز طي گرد همايي به حمايت و پشتيباني کامل شان از اهداف و برنامه هاي عام المنفعه امارت اسلامي افغانستان تاکيد ورزيدند.

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از ولايت کندز خبر ميدهد درين گردهمايي که جمع

کثيري از اهالي آنجا شرکت داشتند، نخست آياتي چد از قرآن عظيم الشان قرائت گرديده بعداً محترم مولوي عبدالرقيب سرپرست وزارت شهداء و مهاجرين ، محترم غايب ولسوال قلعه زال و محترم ملا سلطان قوماندان امنيه آن ولسوالي بالترتيب در رابطه به اهداف و برنامه هاي عام ص ٤

کار باز سازي شفاخانه ولسوالي مرغاب ولايت بادغيس به سرعت جريان دارد

کار باز سازي و احياي مجدد شفاخانه ولسوالي مرغاب ولايت بادغيس که چندي قبل توسط دفتر طبيبان بدون سرحد آغاز يافته بود بيست فيصد اکمال گرديده است .

آژانس اطلاعاتي باختر از ولايت بادغيس خبر ميدهد : شفاخانه متذکره که طي دوران رژيم هاي گذشته قسماً تخريب و

قابل استفاده نبود اخيراً کار باز سازي و احياي مجدد آن توسط دفتر طبيبان بدون سرحد آغاز و کار آن بيست فيصد به پايه اکمال رسيده در مذاکراتي که بين محترم مولوي نيك محمد سرپرست ولايت بادغيس و شاغلي اردیف رئيس دفتر متذکره ديروز بعمل آمد رئيس موسسه طبيبان بدون

ص ٤

شریعت

دتاسيس كال : ۱۳۷٤ هـ ش

: د ليكوال هيئت ترنظر لاندې

مسؤول مدير : عبدالرحيم «ثاقب»

مرستيال : ملا أسد الله «حنيفي»

دبوي گڼي بيه : په هيواد كي (۱۰۰۰) افغانى په پاكستان كى (۳) كلدارى

پست بكس : (٤٧۱) كابل - افغانستان تيلفون : ۲۱۳۸۱

په پيښور كي : دطالبانو نمايندگي تيلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱٥۷-۸۱٥٦۲۷

جاري حساب : ٤-۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مركز

چاپ : دولتى مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

افغانانو له دا ډول غونډو سره ـــ «بلديت» پيدا كړېدي او پوهيږي چي پرته له دې چي د يو څو كسانو جيبونه پري ډك شي بله هيڅ گټه به ونلري چي همداسي وهم شول د قبرص غونډه جوړه شوه او ختمه هم شوه خو له توقع سره سم هيڅ كرج تري را ونه وتل او د بي اغيز والي لاملونه يي هم له چاپيځ نه دي چي ستر لامل يي دا دي چي ددې غونډي بنسټ د افغانانو غوښتني نه بلكه د پرديو فرمايش تشكيلاوه او له دې سره دا دې د افغانانو هغه شك هم اوس په يقين بدل شو چي ددې غونډي تر شا د ملت د ارادې په ځاي د پرديو لاس دې. ځكه كه ددې غونډي ابتكار په رښتيا هم د بي پري او خپلواكه افغانانو په لاس واى نو د افغانانو اراده به يي تمثيل كړي واي او د افغانانو هغه رښتوني استازي به ور غوښتل شوي وي چي همدا اوس د ملت په متن كي اوسيږي ، له افغانانو سره په درد او غم كي شريك وي. ملي ملاتړ او رسوخيت لري په داسي حال كي چي ددې غونډي گډون كوونكي داسي كسان وو چي له هيواده په زرگونه ميله ليري په پرديو هيوادو كي له شرابو او كبابو سره لوبي كوي، تر پرون يي هم چا نوم نه اخسته او نن يې هم نه پيژني چي نه د افغانستان له عيني واقعيتونو نه خبر دي او نه هم له شرايطو او ضرورتونو څخه. دوي دې وښيي چي د افغانستان له هغې پنځه نوي فيصده خاورې نه چي د اسلامي امارت تر كنترول لاندې ده په دې غونډه كي چا گډون كړېدي آيا له دې پنځه نوي فيصده وگـــړو څخه يوه هم دا حق نه درلود چي خپل نظر وړاندې كړي ؟

همدا راز ددې غونډي په اړه له ملت سره دا سوال دې چي دا غونډه ولي له هيواد نه لري په يو مرموز ځاي كي چي د افغانستان له قضيي سره په هيڅ توگه تړاونه لري. دايره شوه همدا راز په اصطلاح ددې لويي غونډي لگښت چا پر غاړه اخستي دي تر اوسه خو يوې بې پري اداري او يا كوم افغاني سوداگر هم ددې غونډي د لگښت منلو اعلان نه دې كړي. په دې غونډه خو ډير مصرف راځي د گډون كوونكو د الوتكي ټكټ، په عصري او مجللو هوټلونو كي د اوسيدلو او نور بندو بست خو وړيانه كيږي نو دوي دا پيسي له كومې كړلي، د ځنو منابعو په وينا ددې غونډي لگښت ايران چي د اسلامي امارت د مخالفينو ستر حامي او ميزبان دي وركړي. همدا راز ځينو مطبوعاتي حلقو ويلي دي چي ددې غونډي د دايرولو مبتكر د ډاكتر شمس په نوم يو شخص دي چي د كمونستي رژيمونو په دوران كي يي په خاد كي لوي ماموريت درلود او د زرگونو افغانانو په وينو يي لاسونه ككړ دي.

نو داسي فرمايشي غونډي چي د داسي خادستانو په استخدام او د داسي مجهوله الهويه خلكو په تركيب او په داسي يو مرموز هيواد كي تر سره شي افـــغانان به يي هيڅكله هم تائيد نه كړي او نه به داسي خـــلكو ته په خپل برخليك كي د گوتي وهلو اجازه وركړي.

د قبرص د غونډي په مهال په كندهار كي د لسو زرو نه ډيرو سو چه ، مخلصو او پوهو افغانانو په گډون د علماو غونډه كه له يوي خوا د ملت د درني برخي لخوا د قبرص د غونډي په وړاندې غبرگون گڼلي شي، له بلي خوا دكندهار غونډه كولي شي چي د قبرص غونډه بلكل رد اعلان كړي ځكه چي د كندهار په غونډه كي له لسو زرونه ډيرو سوچه هغو افغاني علماو گډون كړي وو چي د ملت په منځ كي اوسيږي ، له دردو او غمونو نه يي خبر دي او د قبرص په غونډه كي خو ټول ۱٥۰ كسان هم نه وو راغونډ شوي.

رښتيا خبره دا ده چي د قبرص غونډه ددې لپاره د ښكيلاك په اشاره جوړه شوه تر څو د اسلامي امارت وروستي فتوحات تر شعاع لاندې راولي او د يو څه وخت لپاره يي د خلكو ذهنونه له دې سوبونه ددې غونډي په اړه تبصرو ته جلب كړي وي خو دا خبره هم د يادوني وړ ده چي ښكيلاك په دې پلمو او دسيسو د خپل گوډاگي په كالبد كي ساه نه شي پوكولي او نه يي موراله او ماتي خوړلو مليشو ته مورال وركولي شي اوس افغانان په هر څه پوه دي په داسي فرمايشي غونډو نه غوليږي . كه څوك په رښتيا هم د افغانانو په درد دردمن وي او دلته رښتوني سوله غواړي نو ښه به دا وي چي هر كار د اسلامي امارت تر نظر لاندې وكړي او اسلامي امارت د افغانستان په اوضاع حاكم او قانوني حكومت وگڼي له دې پرته به يي هڅي هيڅ نتيجه هم ورنكړي .

واقعیتونه ولې نه درک کیږي؟

غفور احمد «غزنوي»

كه د انسان د پيدايښت لومړني نيټي ته چي د آدم«ع» له خلقت يا پيدايښت څخه راپيل كيږي نظر وكړو او هغه پيښي چي په دې دوران كي منځ ته راغلي وڅيړو نو دا به راته جوته شي چي انساني فطرت د ژوند په اوږدوكي لارښوونكي او د كار او وظايفو يوې منظمې لايحي ته ډيره ســخـتـه اړتيا لري. لوي اوښـونكي خداي«ج» د بشر دغه مهمه اړتيا د انبياوو په لاس د سماوي قانون په راليږلو سره حل كړي او هم يي د انسان ماهيت، د ژوند فلسفه او د پيدايښت موخه په ښكاره توگه سره بيان كړي، نو په دې اساس ويلي شو څرنگه چي كب يا ماهي د اوبو دي او په اوبو كي ژوند كوي نو دي نشي كولاي د اوبو څخه وچي ته راووځي او په اصطلاح د اوبو په حقيقي ماهيت ځان مشرف كړي . خو كله چي له اوبو څخه را وايستل شي نو د اوبو په قدر پوهيږي خو دا به له وخته وروسته پوهه وي .

دا به ومنو چي انسان كولاي شي د زيار او زحمت په وسيله عالي مدارجو ته ورسيږي او راز، راز اختراعات او كشفونه ټولني ته وړاندې كړي او د جرايمو د مخنيوي له پاره څه قوانين وضعه كړي خو دا چي دې د ځان په هكله څه معلومات لاس ته راوړي او يا د موضوعاتو څيړني كوي، نسبت هغه معلوماتو او څرگندونو ته چي دده خـــالق جوتي كړي بيحده متفاوت او داسي مثال لري چي يو جامد شي دوغواړي ځان وپيژني. نو په دې اساس كه ووايو چي «ارسطو» ټولي انساني قيافي نه دي پيژندلي يا دا چي د «ماكياولي» مطالعات د انسان په هكله ټول اړخيز (همه جانبه) نه دي، يا دا چي ووايو «مارك تواين» له يوې دريځې څخه انسان مطالعه كړي بي ځايه به نه وي، او دا به اعتراف په عظمت او ظرافت ددغه تعجب آميزه موجود وي همدا راز كه چيري د داسي دانشمندانو په لاس د ليكل شويو كتابونو يا ټپي راوړوو نشو كولاي د انسان حقيقي ماهيت او د ژوند فلسفه سره له قانع كوونكو دلايلو لاس ته راوړو كه څه هم يو انسان يا يوه ټولنه د ښه ژوند كولو او د جناياتو د مخنيوي له پاره قوانين او لوايح د امورو وضعه كوي خو دا چي دده معلومات نيمگړي او له راتلونكي څخه ناخبره دي نو دده موضوعه قوانين به هم نيمگړي او له راتلونكي سره په تضاد كي وي . كه هر څومره وړاندې لاړ شو دې پايلي ته رسيږو چي بايد داسي يو څوك د انسان د حقيقي ماهيت په هـــكله او دده د ژوند د فلسفي په باب معلومات وړاندې كړي، او همدا راز دده د ښه ژوند او د جناياتو د مخنيوي له پاره قوانين وضعه كړي چي هغه په پوره مانا پرده مسلط وي او دده په هكله هر اړخيـــزه معلومات ولري نو داسي څوك نه ده مگر هغه ذات چي خالق او پيدا كوونكي د انسان او ټولو كايناتو دي او په داسي حساس وخت كي چي پر بشري ټولني د جهل، وحشت او ظلمت پرده خوره وه يو ځل بيا د علم او عدالت روښانه لمر، د حق او باطل مفرق او بېلوونكي باني زموږ گران پيغـمـبر حضرت محـمـد مصطفى«ص» د بعث په وسيله په كـال ٦۱۰ دغـه توره او كرغيړنه پرده له نړي څخه ټوله كړه او د قواعدو، ضوابطو او پرنسيپونو په وضع كولو يي د انسان فردي او ټولنيز ښېگڼي په نړي كــي څرگندي كړې او په ډير لږ وخت كي دغه حقوقي سيستم د عربستان د شبه جزيري څخه د نړي نورو برخو ته خپور كړ . كه غربي مستشرقين لكه د «گلډزيهر» «فون كريم» اميليـويوس او داسي نورو پر اسلامي حقوقي سيستم بي مانا او بي ځايه اعتراضونه كوي دغه سپيڅلي سيستم ته هيڅ زيان نشي رسولاي ځكه كه څوك وغواړي لمر په دوه گوتو پټ كړي نو دا كار به دده د عقل له نيمگړتيا څخه نمايندگي كوي .

اصل مقصد ته به راشو او هغه دا چي د افغانستان اسلامي امارت غواړي دغه سماوي غوره حقوقي سيستم عملي كړي . كه څه هم غربيان او نور معاندين خپلو اعتراضونو ته دوام وركوي او يا په دې لار كي خنډونه اچوي خو دومره ويل غواړو چي غيـــر اسلامي هيوادونه يا دانشمندان خو په ښكاره د اسلام په عناد كي واقع دي او د اسلام له پراختيا او واكمني څخه په ويره كي دي خو اسلامي هيوادونه كوم دليل له ځان سره لري چي دوي هم له نورو سره د افغانستان په اسلامي امارت اعتراضونه كوي او ددغه غوره سيستم په خپل هيواد كي كما حقه د عمل صحني ته نه راوباسي. آيا كوم دليل لري چي د اسلامي امارت د رسميت پيژندلو په برخه كي چوپتيا غوره كوي ؟ هيله ده په خپله روانه پاليسي كي بدلون راوړي او سم قضاوت وكړي .

د سترگو ليدلې واقعيت

محمد حسن «پير زخيل»

وروسته له شلو كالو هيواد ته راستون شوي وم، د تورخم څخه مو موټر د كابل په طرف حركت وكړ، پدې لاره مو رنگ شوي كلي او بانډې وليدلې ، سرك ويجاړ شوي وو د دوه نيم ساعتو سفر لاره وه خو په شپږو ساعتونو كي مو ووهله د تعجب خبره وه په ټوله لاره هيڅا زموږ د سپرلي مركب ونه دراوه دې يې مثله امن او امان هره شيبه يو سكون، اطمينان او خوشحالتيا را ښئيله. ما شپږ اسيايي او افريقايي هيوادونو ته سفر كړي داسي امنيت چي خپل گران هيواد ته په راستنيدو مي وليده په هغو هيوادونو كي مي نه وليدلې. پدې لاره د رنگ شويو كليو او بانډو تر څنگ د سرك په يوه او بله خوا د روسي برغلگرو ماتي شوي شوبلي او زرهپوشونه تر سترگو كيدل چي د قهرمانو مجاهدينو په لاس دړې وړې شوي وو كابل ته په رسيدو مي هغه كابل چي شل كاله وړاندې ليدلي وو ونه ليده او په كنډوالو واوښتم د كابل په ليدو مي ډير وژړل ولي زما ژړا وران كابل ته څه گټه نه رسوله او نه يي ورته كوم ټپ مرهم كاوه د نړيدلو ديوالونو يو او بل خـــوا تيريدلو شپه مو د يو دوست كور ته ورسوله له هغوي سره له اوږده ځنډ او مسافري وروسته ليدل كتل وشول، د اسلامي انقلاب د بري مباركي مو يو بل ته وويله، شپه تيره شوه گهيځ د چاي خوړلو نه وروسته ما ياده كړه چي د طالبانو د مشرانو سره د ليدلو په نيت راغلي يم چي څنگه به راته ورسره د ملاقات كولو زمينه برابره شي، هغوي ويل : دا څه هغه پخواني حاكمان درته ښكاري چي ملاقات لپاره به ورته غټان واسطه كيدل ؟ دا هسي ندي له دوي سره هر څوك چي وغواړي ليده كاته وكړي په ډيره اساني سره يي كولاي شي دا مو سره غوټه كړه چي اول به د اطلاعاتو او كلتور وزير صاحب سره ووينو بيا كه وخت وو د نورو مشرانو سره به وگورو د اطلاعاتو كلتور وزير صاحب ليدو ته لا زيات ليوال وم هغه وو چي د اطلاعـاتو او كلتـور وزارت ته ورسيدو هلته د دروازي سره يو ځوان طالب را سره مصافحه وكړه اود داخليدو لارښوونه يي وكړه د اطلاعاتو او كلتور وزير صاحب سره د ليدو او روغبړ نه وروسته په لومړيو شيبو كي مو داسي محسوسونه لكه وروو مو چي پس له شلو كالو ليدلي وي او د هغه بشاشي څيري هم گواهي وركوله لكه چي خپل سكه ورونه يي شل كاله وروسته ليدلي وي هغه ته مو د راتلو هدف ووايه هغه خوشحاله شو او ويې ويل : خداي«ج» دې توفيق دركړي خپل وطن كي د ژوند تيرولو زمينه درته برابره ده ځكه اسلامي انقلاب بري ته رسيدلي او د وطن د بيـــا ابادي وخت را رسيدلي، موږ هم په نويت خبري وكړي او د زړه د خوشحـــالي اظهار مو وكړ او وعده مو وكړه چي حتماً راځو او ددې وران ويجاړ هيواد په بيا ابـــادي كي ونډه اخلو، پداسي حـــال كي چي زه د خپل فاميل په شمول د شپږو مياشتو لپاره په رخصتي پشاور ته راغلي وم د واپس تلو څخه منصرف شولم او خپل فاميل مي له پيښور څخه كـــابل ته را انتقال كړ، دلتــــه مي په كـــابل كي د پلاستيكي توكو د توليد فابريكه جوړه او فعاله كړه چي د خپل ژوند نيك تدبيـــر يي گنم او د راتلونكي ټول ژوند لپاره مي كــــابل انتخاب كړ. پدې دعا يم چي الله پاك«ج» دې د شريعت په زرينو وړانگو د هيواد پاتي سيمي هم رڼا كړي او رب العالمين دې د تل لپــــاره زموږ د مجاهد ملت تهـــولي ستونزي حل كړي .

در كلينيك حمايه طفل و مادر...

۱- بخش اطفال- در اين بخش اطفال نوزاد تا سن هفت سالگي مورد معاينه و تداوي قرار گرفته و مريضان عاجل و بسيار مهم ذريعه مكتوب به شفاخانه صحت طفل فرستاده ميشوند.

۲- شعبهء واكسين - در شعبه فوق الذكر واكـــسين هاي «بي سي جي»، «پوليـو»، «دي پي تي» ، ســرخكان براي اطفال و واكـسين تيتانوس براي مادران و خانم هاي حامله تطبيق مي شود.

۳- اتاق نسايي و ولادي كه در شعبات متذكره وضع صحي مادران حامله چك و بررسي ميشوند. و مادران مصاب به امراض نسـايي تداوي شده و در شعـبـه‌ء ولادي مريضان (پوست پرتم) يعني مادراني كه در سه ماه اولي دوران حاملگي توكسي هاي ابتدايي مـانند: دل بدي،و استـفـراغ، بي اشتهايي ... و ساير امراض داشته باشند در تحت نظر دوكـتـوران ورزيده بخش هاي متذكره معالجه و تداوي ايشان صورت مي گيرد.

در اتاق نسـايي فشـار خون، وزن و معـاينه اطراح مريضـان صورت گرفـتـه و مريضانيكه وزن ايشان از چهل و پنج كـيلو كمتر باشند به شعبه سؤ تغذي معرفي مي شوند .

٤- شعبه تداوي سؤتغذي يكي از بخش هاي عـمده ديگر كلينيك بشمار ميـرود همچنان دو تن از همكاران كلينيك به صفت مبلغين كلينيك حمايه طفل و مادر وظيفه دارند كه در روز هاي معين توزيع غذا، براي مادران پيرامون موضوعات صحي و حياتي چون سرايات شير مادر طرق پخت و پز ... باي واكسين، نظافت، تغذي اطفال و خانم هاي حامله ، امراض و اسهالات اطفال، لباس خانم هاي باردار و در مورد ساير موضوعات ... گي بحث و صحبت ها نموده و ... سوالات مادران از جانب مبلغين پاسخ ... گرديده و مشكلات ايشان حل و ... مي گردد.

محترمه دكتورس «سخا» در اخير علاوه ... كلينيك حمايه طفل و مادر ... به مسئول يك خانم خارجي كه از موسسه IAM با ما همكار است بيست و ... خواهران ما اعم از داكتران و نرس ... مبلغين صحي، لابرانت و ... كننده گان مصروف خدمت براي طفل و مادران مي باشند.

كلينيك ما داراي دواخانه مجهز ادويه مخصوص مادران و اطفال بوده كه با اخذ يك ... مطابق نسخه توزيع ميشود.

قابل ياد آوري است كه از جانب كلينيك حمايه طفل و مادر كـارته سه و همكاري وزارت صحت عامه امارت اسلامي افغانستان هشت تن از مادران بزرگ سال بنام دايه هاي محل از دو ناحيه شهر كابل و چار منطقه اطراف شهر در كلينيك درس هاي عـملي و نظري را تحت نظر استادان ورزيده نسايي و ولادي فرا گرفته و در حاليكه وسايل و سامان آلات ولادي از جـانب كلينيك به دسترس ايشان قرار دارد مصروف همدردي و كمك به مريضان ولادي در منازل مي باشند يعني مريضاني كه نمي توانند در همان زمان معين به شفاخانه مراجعه نمايند و سلسله تربيه دايه هاي محل جريان دارد.

«سلطانة رحيم»

مه ژاړه موري

محمد رفیق «عزت»

موري! ماته نن هغه ورځ رایادیږي چې په اول ځل دي ماته (الف -ب) سپاره په لاس کي راکړه او مسجد ته دي ولیږلم مخکې له دي نه چي زه له کوره ووزم ماته دي دغه خبري راوښودي اول چي مسجد ته ور داخل شوي مشرانو ته به سلام وروا چوي او بیا به خپل درس له ملا صاحب څخه شروع کړې موري ! ماته هغه ورځ را یادیږي چې د لمړي ځل له پاره په ما لمونځ فرض شوي و او مازدیګر چي مي اودس وکړ او مسجد ته تلم تا په خپلو مهربانو لاسو یوه سپینه خولي را پر سر کړه او د الله«ج» له دربار نه دي په منتي داسي وویل شکر الله زه له تا څخه راضي یمه چي زما مسلمان بچي ستا د کور لورته روان دي او ستا فرض ادا کوي یا الله«ج» ټول ژوندون بي ستا د رضا په لار کي غواړم او زه د مسجد په لور روان شوم.

موري! ماته هغه ورځ را یادیږي چي زموږ په ګران هیواد کي ظلم ، ستم، چور، چپاول خپل وروستي حد ته رسیدلي و او هغه وخت ما د خپل عمر په څوارلس کلني کي قدم واهه خو علم مي سرته رسیدلي نه وو.

موري! ماته هغه ورځ را یادیږي هغه زیړ مازدیګر چي ته ډوډۍ پخوله او زه له مسجد نه کور ته راغلم وروسته له سلامه مي دا خبره تاته وکړه چي زما د درس ملګري د هغو خلکو د مقابلي لپاره سنګر ته درومي چي زموږ په هیواد بي ظلم چور او چپاول ګډ کړي او ستا څخه مي اجازت وغوښت له څو شیبو سکوت څخه وروسته ستا په مهربانو سترګو کي اوښکي ورغړیدي خو دي افغاني غیرت له وجي بي د ګریبان په لور حرکت ونه کړ بښه مي یادیږي چي تاراته وویل زه له الله«ج» څخه ډیره خوشحاله یمه چي زما مسلمان بچي د مسلمانانو د خدمت او د ظلم او وحشت له منځه وړلو په خاطر له کوره وځي.

خو ګوره بچیه! زما له حقه خلاص نه بي که دي د چا مال یا ناموس ته په سپک نظر وکتل. او بیا دي راته وویل چي څه بچه ! په الله پاک مي سپارلي بي.

موري! ماته هغه ورځ را یادیږي چي زه د اسلام په پاک سنګر کي ناست وم. د اوړي هغه ترخه ګرمي وه چي په کوبړي کي ماغزه ایشیدل او له دښمن سره سخته جګړه هم روانه وه تا به ویل چي د میوند د جګړي تکرار ده خو پدي میدان کي ملاله او د هغي ټپي نه وي او د هر مجاهد په خوله کي له تندي څخه لاړي و چي شوي وي د اوبو د تنده والي خو هیڅ تصور هم نه کیدو خو دا به هر مسلمان اوریدلي وي چي الله «ج» له مور او پلار نه هم ډیر مهربانه دي ما هغه څه وځنبل چې تصور بي هم نه کیدو او تنده مي پري ماته شوه پوهیږي چي هغه څه ؟ شراب وو.

موري ! هغه د دنیا شراب نه وو هغه له جنت څخه راوړل شوي وو او زه بي هم تر قیامته پوري بي هوښه کړم.

موري څنګه چي زه له کوره ووتلم او ستا اوښکي له سترګو نه بهر نه شوي اوس هم هیله کوم چي ستا اوښکي د ګریبان په لور حرکت ونه کړي ځکه چي په ما خو هیڅ هم نه دي شوي فقط هغو مستو شرابو بي هوښه **کړي یم بي هوښه به یم چي د قیامت تر ورځي پوري نور د دنیا له زحمتونو نه وزګار شوم او پوهیږي موري چي دي بي هوښي ته څه وایي؟** شهادت .

همرکاب عشق

با راکب عشق همرکابم کردند
تنویر ز آیات کتابم کردند
لب تشنه تر از سراب بودم ایدوست
سیراب تر از معني آبم کردند

براي منافقین

بر شیشه ما سنګ زنانید هنوز
در پاي عدو، خم چو کمانید هنوز
هر لحظه نشان ز سامیریها جویید
ګوساله پرستان زمانید هنوز

د شعر او ادب لړۍ

مثنوي

عزت غواړې هر ان ژاړې
ذلت نه غواړې ځان ژاړې
هر څه کړل پروردګار بس
بیشک نه کوم انکار بس
دي څښتن د عزتونو
هم څښتن د ذلتونو
که عزت دي که ذلت دي
د دنیا که آخرت دي
په قبضه کي د اله دي
د کرانه د بادشاه دي

اوبه د کوثر

مولوي محمد اعظم «علمي»

راشه وګوره زما زړه او ځیګر
چي زخمي دي ستا د سترګو په خنجر
تاو راتاو دي کرمه هر خوا لکه لمر
ما سینه درته نیولي لکه سپر
ستا حضور ته په دعا یم شام سحر
که سوالونه مي قبول شي ستا په در
ددي هجر خوند به اخلم په محشر
چي نصیب مي شي جامونه د کوثر
بیا به مینه شي په شان شهد او شکر
که مي وشي دیدنونه په حشر
د«علمي» زړګي به شي پر هر پرهر
که میلمه بي نکړي یاره په بستر

براي از ره برګشتګان

روشنګر آیات عزازیل شدید
سر سلسله ګویان اباطیل شدید
بر فرق عدو، سنګ ابابیل بدید
هیهات که پیروان قابیل شدید

در نیکي کردن

صد خانه اګر به طاعت آباد کني
به زان نبود که خاطري شاد کني
ګر بنده کني بلطف، آزادي را
بهتر که هزار بنده آزاد کني

جانان

عبدالرحمن ومان نیازي

اشنا د تا سترګو کي
آشنا زما سترګو کي
تر پیغمبره پوري
هان د موسي سترګو کي
همهغه یو جانان دي
چي هر څه ، هر څه کي دي
کله د نور په نامه
کله د طور په نامه
کله له داره سره
د کوم منصور په نامه
همهغه
یو
جانان
دي چي
هر څه، هر څه
کي وي

جګ برجونه

اروانباد استاد ګل پاچا الفت

د کلا برجونه او دیوالونه ډیر جګ وو. د کلا شا او خوانه خندق ډیر ژور و له دغه جګوالي سره دغه ټیټوالي تړلي و او د لوړتیا راز په همدغه کنده کي پټ و . تر څو چي یو ځاي ډیر ژور نه شي د چا برجونه نه جګیږي . د یوه لوړیدل او د بل ټیټیدل یو له بله تړلي دي.

دا جګ برجونه هر چا له لري لیدل مګر دا لویه کنده له لري چا نه لیده او د نژدي خلکو هم ډیر پام ورته نه و . زموږ سترګي له ډیر لري ځایه لوړ ځلي او جګ برجونه ویني مګر ژوري **کاګاني او لويي کندي څو قدمه هغه خواته ویني.**

ددي هسکو دیوالونو او لوړو برجونو خته له همدغه ټیټ ځایه اخستل شوي ده .

دا خته د سنهاله پښو لاندي پخه شوه او ډیرو خلکو په لتو ووهله، بي له دي نه دا د یوالونه او برجونه نه لوړیدل.

یوه لوړ مقام ته رسیدل دغه راز کارونه په مخکي لري او ټیټ همدغسي جګیږي .

د دنیا جاه او جلال، عزت او منزلت هماغه لوړ برجونه دي چي سرګذشت یي له ډیر ټیټ ځایه شروع کیږي .

کوم سر چي د ډیرو خلکو په مخکي په تعظیم ټیټ نشي لوړ سرونه ورته په احترام نه ټیټیږي هغه چي بل ته لاس په نامه نه وي ولاړ نور ورته لاس په نامه نه دریږي دا هغه پور دي چي سړي یي یوه ته ورکوي او له بل نه یي غواړي.

که دا خبره تاسي نه مني نو راشي د خان نوکران وګوري! هغه چي د خان په مخکي خپل سر ډیر ټیټوي په نورو باندي تفوق لري او درجه یي لوړه ده . هغه آس چي د ارباب د سورلي د پاره په کمند کي ولاړ دي له نورو اسونو نه ډیر قدر لري او مهتران یي ډیر سه خدمت کوي. که مونږ حقیقت ته حیر شو عزت ډیر حله په ذلت ګانه شي او باداري د غلامي نتیجه ده . خلك شته چي د شخصیت د ګټلو دپاره خپل شخصیت د پښو لاندي کوي او د عزت له پاره عزت النفس قربانوي. ځکه چي دهقانان غنم په خاوروکي شیندي او بیا د غنمو درمندونه اخلي دوي هم عزت او شخصیت د خاورو لاندي کوي او ودي ته یي منتظروي.

په دنیا کي لر کسان دي چي خپل فطري او طبیعي لوړوالي په بل شان ساتي او د لوړو برجونو غوندي نه دي بلکي د غرونو د جګو څوکو سره شباهت لري.

افغانانو ته خپل اسلامي او ملي ارزښتونه غوره دي

ملیار کاکړ

دا یو منل شوي حقیقت دي چي هر ملت ځانته یو لړ دیني او ملي ارزښتونه لري او ددغو ارزښتونو پالل او روزل د ملت د ټولو وګړو لومړني دنده ګڼل کیږي . د نړیوالو اصولو پر بنسټ باید هر هیواد ددي په څنګ کي چي خپل ارزښتونه د ځان له پاره غوره ګڼي او دا خپل رښتیني حق ګڼي باید د نورو ارزښتونو ته هم په سپکه ونه ګوري او خپل ارزښتونه په نورو ونه تپي چي پایله به یي د نړیوالو اړیکو سمون، سکون او پراختیا وي.

افغان غیرتي ملت هم ځانته غوره اسلامي او ملي ارزښتونه لري او په وار، وار یي ددغو ارزښتونو د ساتني، پالني او ودي په لار کي هر ډول قرباني ورکړې. که څه هم چي پردیو طاغوتي زبرځواکونو څو، څو ځلي ددغو ارزښتونو دله منځه وړلو هڅي کړي خو افغان غیرتي ولس د سر او مال په شیندلو او د ډیرو ناخوالو په زغملو خپل اسلامي او ملي ارزښتونه خوندي ساتلي او د چا زور زیاتي ته یي د تسلیم غاړه نه ده ایښي.

د روس په مقابل کي د افغانانو اسلامي او ملي جهاد او بیا را وروسته کلونو کي ددغه باتور ملت سربښندني ددغي خبري اوچتي بیلګي دي.

د افغانستان اسلامي امارت چي اوس د هیواد د شرعي واکمني اداري په توګه د هیواد واګي په لاس کي لري، ددي تر څنګه چي د نورو هیوادونو او ملتونو دیني او ملي ارزښتونو ته د قدر په سترګه ګوري، د نړیوالي ټولني څخه غوښتنه لري څو د اسلامي امارت کړني د افغانانو د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کي وویني او لکه څنګه چي څېنو رښتینو، واقعبینو او د افغاني ټولني په اسلامي او ملي ارزښتونو پوهو کسانو کړي، د افغاني ټولني رښتیني حالات او د افغانانو رښتیني غبرګون منعکس کړي .

په دي وروستیو کي د امریکا د کالیفورنیا د لومالیندا پوهنتون یو هیئت د داکتر جان کاګین په مشري افغانستان ته راغلي و او په اوسنیو پرمختللو معیارونو یي د کابل پوهنتون د طب د څانګي او ددغه پوهنتون د کتابتون د بیا رغاوني په هکله د اړوندو څانګو او چارواکو سره ګټوري خبري اتري ـــ وکړي

نوموړي د کابل د روانو حالاتو په تیره بیا د افغاني میرمنو د ژوند په هکله یو لړ رښتیني څرګندوني کړي او د سترګو لیدلي حال یي داسي بیان کړي « هغه څه چي ما کابل کي د سر په سترګو ولیدل، او هغه څه چي په غرب کي تبلیغ کیږي، ډیر سره لري دي د غرب تبلیغات د افغانستان روانو حالاتو سره بالکل څنګ نه لګوي»

نوموړي زیاته کړي « هغه حقایق په تیره بیا د ښځو په هکله چي باید په سمه توګه د نړۍ په مطبوعاتو کي خپاره شي نه منعکس کیږي ا غرب په دي برخه کي له بیځایه تبلیغاتو څخه کار اخلي. افغاني میرمني د تیرو سختو حالاتو په پرتله په اوسني حالت بالکل راضي دي او د امریکا څخه دا هیله لري څو د ښځو د حقوقو له پلمي څخه دي نورو د ګټي اخستلو هڅي پریږدي، ځکه چي زیان یي بوازي او بوازي افغاني میرمنو ته رسیږي »

افغانان په داسي حال کي چي د نړیوالو اړیکو د سمون په رڼا کي د نورو ارزښتونو ته په قدر ګوري وار په وار د خپلو اسلامي او ملي ارزښتونو د پاللو حق هم لري.

دا چي ځیني نړیوالي ټولني کله کله د ښځو د حقوقو په نامه ناري سوري کوي یو ځل خو دي د حقیقت د ښکاره کولو له پاره د اسلامي امارت واك لاندي سیمو ته لږ تر لږه یو هیئت چي د اند سترګه یي روښانه او له غرض څخه لري و اوسي راولیږي او له نږدي څخه دي ددغو بي ځایه پروپاګندیو جاج واخلي. هر هغه ټولنه چي د نړیوالتوب ادعا کوي او د خپل اړده نوم سره د نړیوال کلمه کاروي باید خپل معلومات هم نړیوال کړي او د تورونو د لګولو تر مخه دي د هري ټولني په رښتني او ملي ارزښتونو ځان پوه کړي د کمپیوټر په اوسني عصر کي دا ناشوني نه چي ډیر آسانه کار بریښي.

که چیري څوك د اسلامي احکامو پر بنا د یوه مسلمان هیواد د میرمنو پر سر د حیا او عفت ټیکري خوروول د ښځو د حقوقو خلاف ګڼي په اصل کي خپله د نړۍ د اوسیدنکو د یوي لویي برخي او په خاصه توګه د یوه غازي او قهرمان ملت په ارزښتونو تیري کوي چي دغه تیري هیڅ یوه مسلمان او افغان ته د زغملو وړ نه دي.

د ښځو د حقوقو دغه تش په نامه ګټونکي خو دي یو ځل د افغاني میرمنو د خولي بیان چي د یو امریکایي شخصیت ډاکتر جان کاګین په خبرو کي هم ورته نغوته شوي ... کړي چي افغاني میرمني د اسلامي امارت ترسیوري لاندي خپل ژوند د تیر په پرتله ډیر ښه بولي خو د ښځو د حقوقو ګټندویان !! ستوني شکوي چي علي اسلامي امارت د ښځو د حقوقو په هکله د هغه کوي اودغه کوي رښتیا چي ډیره عجیبه او د خندا وړ ده . نه ده ؟

بي له شکه افغاني میرمني خپلو اسلامي او ملي ارزښتونو ته ژمني دي او د اسلامي امارت د احکامو په رڼا کي ژوند د خداي«ج» ستر نعمت ګڼي. دا خو د دوي د ووړو او پلرونو د وینو ثمر او د دوي د سوبو دعاګانو د قبول او منلو بدل دي.

اوس، اوس د ټولو افغانانو ستونځې یوازي او یوازي اقتصادي دي او هغه هم د پردیو د بي ځایه لاس وهنو او د نړیوالو له خوا د اسلامي امارت د رغنده او پر ځاي کړنو د نه لیدلو زیږنده دي افغانستان د نړیوالي ټولني نه بیلیدونکي برخه ده د نورو ارزښتونو ته د قدر په سترګه ګوري او د خپلو اسلامي او ملي ارزښتونو د پاللو، روزلو او ساتلو حق لري. افغانان چانه دا حق نه ورکوي چي د دوي اسلامي او ملي ارزښتونو ته د شك په سترګه وګوري.

خداي«ج» دي د نړیوالو د اند سترګه لکه د ډ اکتر جان کاګین رڼه لري څو د افغاني ټولني روان حالات په رښتیني توګه د نړیوالو غوږونو ته ورسوي.

آمین یا رب العالمین

* * * * * * * * * * * * *

مسعود د خپلو اړوندو ...

او افرادو د کورنیو لپاره د اوه زره کورونو جوړول په پام کې نیول شویدي چې د مسعود په قومانده د افغانستان داسلامي امارت پر خلاف جګړه کې فعال رول لري خو باوري اطلاعات ددې څرګندوي دي چې د هغې بې باوري له امله چې د مسعود د قوماندانانو او افرادو تر منځ مخ په زیاتیدو دي اختلافونه یې لا پسې زیاتیږي او مسعود غواړي چې دغه کورنې د برغمل په توګه د تاجکستان د کولاب سیمې ته ولیږدوي.

مسعود غواړي له دې لارې هغوي د افغانستان د اسلامي امارت پر خلاف مقابلې ته وکاږي او څو ورځې نوري هم د خپلې ملیشه سالارۍ ژوند ته دوام ورکړي .

شرکت مخابراتي ...

طریق سرمایه گذاریهاي داخلي و خارجي در افغانستان موثر خواند.

همچنان محترم احسان الله بیات رئیس شرکت تي.اس. اي ضمن ابراز سپاس از همکاریهاي بي شایبه مقامات امارت اسلامي افغانستان وعده سپرد که شرکت متذکره مکلفیت هاي خویشرا مطابق توافقات بعمل آمده در عمل پیاده نموده و کار عملي خویش را عنقریب آغاز خواهد نمود.

در اخیر اساسنامه شرکت بي سیم افغان توسط محترم معین وزارت مخابرات امارت اسلامي افغانستان و رئیس شرکت متذکره به امضأ رسید.

پیښې او پرمختګونه — حادثات و انکشافات

هند خواستار مذاکره با پاکستان شد

هند دیروز اعلان کرد که آنکشور بمنظور خاتمه دادن به تنش موجود در کشمیر خواستار مذاکره با مقامات جمهوري اسلامي پاکستان میباشد.

به گفته منابع خبري بین المللي وزارت خارجه هند طي صدور اعلامیه دیروز از سرتاج عزیز وزیر امور خارجه جمهوري اسلامي پاکستان دعوت بعمل آورد تا بروز شنبه آینده رهسپار دهلي گردیده و مذاکرات صلح را با مقامات هند آغاز نماید.

خبر حاکیست که وزارت امور خارجه جمهوري اسلامي پاکستان قبلاً پیشنهاد مذاکرات را براي خاتمه دادن به درگیریهاي موجود در کشمیر مطرح نموده بود.

در چین شش نفر به جرم قاچاق و رشوت اعدام شدند

دولت جمهوري مردم چین دیروز شش نفر را به جرم قاچاق و اخذ رشوت اعدام نمود.

به گفته منابع خبري بین المللي در میان مجرمین مامورین امور گمرکي آنکشور نیز شامل میباشد.

منابع گفتند در جمله اعدام شده گان سه تن از اهالي هانگ کانگ نیز شامل ، میباشد که هر یك به جرم اخذ هزار ها دالر رشوت مجرم شناخته شده بودند سایر مجرمین نیز به قاچاق ماشین هاي وسایط نقلیه مجرم شناخته شده اند.

به جرم مراعات حجاب سیزده تن معلم زن در ترکیه از وظیفه برکنار شدند

به نوشته روزنامه هاي ترکیه مقام وزارت تعلیم و تربیه این کشور سیزده معلم را در ولایت انتانیا به دلیل استفاده از چادر به عنوان حجاب اسلامي از کار برکنار ساخته است . حزب اسلام گراي فضیلت مخالف دولت ترکیه از پروگرام دولت ائتلافي جدید براي تشدید ممنوعیت حجاب اسلامي به شدت انتقاد کرده است. احزاب دموکراتیك چپ، حرکت ملي و ام میهن تشکیل دهنده دولت ائتلافي ترکیه توافق کرده اند قوانین جدیدي وضع کنند که پوشیدن چادر را در مناطق دولتي ممنوع بسازد.

مذاکرات پیرامون خروج صربها از کوسووا به رکود مواجه شد

مذاکرات پیرامون خروج نیرو هاي صرب از کاسووا ، در روز دوم مذاکرات میان هیأت هاي نظامي سازمان اتلانتیك شمالي و یوگوسلاویا به رکود مواجه گردید.

بدنبال قطع این مذاکرات بك نطاق سازمان مذکورگفت حملات هوایي به یوگوسلاویا بیش از پیش شدت خواهد یافت.

هیأت اشتراك کننده ناتو بعد از قطع مذاکرات به خبرنگاران اظهار کرد : هیأت یوگوسلاویا نتوانست برنامه صلح کاسووا را که قبلاً از طرف سلو بودان میلوسوویچ روي آن توافق به عمل آمده بود نهایي سازد.

دمار له زهرو څخه به جراحي عملیاتو کې ګټه تر لاسه کیدی شي

طبي حیرونکې په جراحي او د زړه د ناروغیو په تداوي کې د مار د زهرو د خواصو په باب په نویو کشفیاتو بریالي شویدي.

نوي څیړنې څرګندوي چې مار په خپلو زهرو کې د تیرافیان په نامه یوه ماده لري چې دغه ماده د جراحي په وخت کې د وینې د پرنو کیدو مخنیوي کوي او د جراحانو ته دا وخت ورکوي چې د ناروغ جراحي په پوره بریالیتوب سره پایته ورسوي.

دغه راز څیړنو ښودلې دي چې د تیرافیبان ماده د زړه په حملو کې په ملو کې د دیرشو د کمښت امکان برابروي چې د ناروغ د زړه له هري حملي سره کولاي شو د هغه درملنې تر بشپړي روغتیا پوري دوام ورکړو .

بادام براي تقویت اعصاب مفید است

محققین جاپاني در یافته اند که خوردن بادام براي تقویت تمرکز حواس بسیار موثر میباشد.

به همین اساس درین اواخر در جاپان نوشیدني بادام به بازار عرضه گردیده که به گفته محققین چند دقیقه پس از خوردن براي نود دقیقه فعالیت و تمرکز مغز را به حد بالایي افزایش میدهد .

بادام حاوي کلسیم پوتاسیم ، مگنیزیم آهن و فاسفورس و پر از ویتامینهاي اي و بي میباشد که علاوه بر تاثیرات بالاي استخوان و خون در حفظ سلامتي بدن کمك میکند. وجود هشتاد در صد چربي در بادام کلسترول خون را که موجب بروز بیماري میگردد کاهش میدهد .

د سرپرستي شورا ...

راپورته شوي او دهیوادد خلکو په خدمت کې دي له دې امله هر پوځي او ملکي مسؤل او کارکوونکي ته لازمه ده چې په آګاهانه توګه د اسلامي نظام دفاع وکړي او د افغانستان د مسلمانو خلکو په همکاري خپلې ورسپارل شوي دندي په ښه توګه تر سره کړي .

ده زیاته کړه د پوځي دندو تر سره کول د افغانستان د اسلامي امارت د اردو د هر منسوبینولپاره ستر ویاړ دی ځکه هغوي په خپل وار سره د شهیدانو د ارمانونو او هیواد د مقدس حریم ساتونکي دي.

د املاکو د ټاکنې ...

عمومي ریاست او د کابل ښاروالي د استازو په ترکیب موظف او ټاکل شویدي لومړني غونډه یې پرون د عدلیې وزارت په مقر کې جوړه شوه او د اړوندو موضوعګانو په باره کې یې په هر اړخیزه توګه غور او څیړنې وکړي .

دموظف هیأت کار دوام لري.

از درک عواید حق العبور ...

همچنان کار قیر ریزي و ترمیم مجدد شاهراه جلال آباد- تورخم به سرعت جریان داشته که عنقریب به پایه اکمال خواهد رسید.

د ننګرهار د طب ...

سختې ستونزې مینځته راولې الحمد لله ددې بانك په پرانستلو او فعالولو سره به زموږ د ناروغو هیوادوالو ډیرې ستونزې هوارې شي.

ریاست تصدي ملي ...

پیشبرد خدمات ترانسپورتي شهري ایجاد گردیده تا قبل از جنگهاي سالهاي ۱۳۷۱ و ۱۳۷۲ به تعداد ۸۰٤ عراده بس شامل سرمایه داشته که در پنجاه و سه لین شهري مصروف فعالیت ترانسپورتي بوده و بعد از جنگ هاي سالهاي ۷۱ و ۱۳۷۲ بتعداد ۱۳٤ عراده بس و پنج عراده وسایط متفرقه که جمعاً ۱۳۹ عراده را در بر میگیرد از جمله وسایط شامل ، سرمایه بوده که فعلاً در اختیار تصدي قرار داشته و متباقي وسایط از اثر جنگ ها بشکل اسکلیت و فاقد اگریگات هاي اساسي در حوزه هاي مرکز، اول و دوم موجود میباشد و از جمله وسایط موجود بتعداد ۱۵ عراده بس خساره مند شدید ۳٤ عراده آن عوارض ثقیله داشته و به تعداد ۸۵ عراده آن فعال و روزمره مصروف انتقال کارمندان امارت اسلامي و همچنان در انتقال همشهریان مصروف فعالیت میباشند که باساس خود کفا بودن تصدي کرایه في نفر راکب را مبلغ یکهزار افغاني در لینهاي شهري اخذ میگردد.

وسایط موجود تصدي به اساس کثرت نفوس در شهر کابل تکافوي نیازمندي ترانسپورتي همشهریان کابل را کرده نمیتواند.

د هرات په ولایت ...

ایتونه ولوستل شول او وروسته د مشاعري غونډه پیل شوه او شاعرانو او لیکوالو خپل شعرونه او مقالې په وار سره ولوستلې چې په هره برخه کې یې د برخه والو لخوا تود هرکلی کیده . د مشاعري په پای کې د هرات ولایت د اطلاعاتو او کلتور رئیس محترم مولوي مفتي لطف الله حکیمي په شاعرانو او ددغې مشاعري په برخه والو باندې ادبي سوغاتونه وویشل.

> د هیواد قدرمنو لیکوالو او فرهنګیانو !
>
> شریعت اوونیزه د افغانانو د اسلامي او ملي ارزښتونو د ساتنې ، پالنې، او روزنې ټینګ او ډاډمن فرهنګي سنګر دی.
>
> راځئ چې په خپلو قلمي لوړینو ، رغنده وړاندیزونو او پر ځای ګوت نیونو د اوونیزې منځپانګه لا بډایه او د ملي اسلامي ارزښتونو په وړاندې خپل مسؤولیت تر سره کړو .
>
> اداره

د کابل په مسلخ کې ...

تر ذبحې مخکې حیوان د موظف وترنر لخوا معاینه کیږي او بیا د حلالولو اجازه ورکوي تر حلالیدو وروسته هم د هر حیوان غوښه ته لابارتوار کې معاینه او کنټل کیږي کومې غوښې چې صحي ستونزې ولرې د مسلخ د مهر په واسطه نښه کیږي او بیا په سار کې د خرحلاو اجازه لري، کومې غوښې چې مرضي نښې ولري هغه تر خاورو لاندې د سخیدو وریلل کیږي او له خرحلاو څخه یې مخه نیول کیږي .

در شفاخانه صحت ...

صحت عامه شفاخانه صحت طفل مانند سایر شفاخانه ها و مراکز صحي کشور احیا و باز سازي گردیده و هم اکنون این شفاخانه با داشتن یکصدو شصت و هشت تن دکتوران و پرسونل صحي مجرب در بخش هاي صحي ، جراحي، داخله ، گوش و گلو، دندان و فزیوتراپي فعالیت داشته و علاوه از اینکه در حدود پنجصد الي هزار مریض در طول بیست و چهار ساعت طور عاجل بصورت مجاني معاینه و تداوي مي نمایند و ادویه لازم طور رایگان به آنها توزیع مي نماید.

محترم ملا نصر الدین جلال رئیس شفاخانه متذکره در رابطه به اهمیت کار و تاریخچه شفاخانه صحت طفل گفت : شفاخانه صحت طفل در سال ۱۳۵۱ با داشتن تجهیزات و سامان آلات مکمل طبي به فعالیت خویش آغاز نموده که از عصري ترین شفاخانه هاي کشور بحساب مي آمد.

متأسفانه طي دوران فاجعه کمونیستي و بالخاصه در زمان جنگهاي رژیم قبلي نه تنها تاسیسات و ساختمان شفاخانه متذکره متحمل خسارات هنگفت مالي گردید بلکه تمام سامان آلات طبي این شفاخانه توسط تفنگداران ملیشه ها غارت گردیده که بطور مجموع خسارات وارده به ملیارد ها افغاني بالغ میگردد.

کمیسیون اقتصادي ...

وزارت زراعت، محترم ملا الله داد طبیب معین وزارت مخابرات، محترم مولوي عارف الله عارف معین وزارت مالیه، محترم مولوي محمد رستم حنفي معین وزارت فواید عامه، محترم معین وزارت آب و برق، محترم معاون شاروالي کابل و نماینده گان ریاست هاي انکشاف سرمایه گذاري خصوصي ، کار و امور اجتماعي و اقتصادي و د افغانستان بانك تدویر یافت.

طي آن پیرامون مسایل مبرم اقتصادي کشور، ایجاد پروژه هاي جدید اقتصادي و سایر پروژه ها و تاسیسات اقتصادي که باز سازي آن در شرایط فعلي جهت بهبود زنده گي مردم و تقویه بنیه اقتصادي کشور ضرورت جدي احساس میشود صحبت هاي مفصل نموده و در نتیجه تدابیر لازم اتخاذ نمودند.

د ماشومانو لپاره ...

وزیرانو شورا له لارې دغه کمیسیون ته سپارل شوي و هر اړخیز بحث وشو او د کمیسیون مصوبه یې د سرپرستي شورا محترم مقام ته واستوله .

د بهسودو د ولسوالي ...

امارتي مسؤولینو او د سیمې ځینو سپین زیرو ګډون کړي و په پیل کې د قرآن عظیم الشان څو مبارك ایتونه ولوستل شول. وروسته د میدان وردګ ولایت د استخباراتو رئیس او ددغې ولسوالۍ یو شمیر مخورو د بهسودو ولسوالي د خلکو د یو لې سیمه ییزو ستونزو او مشکلاتو په باب چې د ملیشو د واکمنې له دوران څخه یې د هغوي په ژوند ناوړه **اغیزې کړې وې خبرې وکړې او د نظریو او پیشنهادونو د څرګندولو په ترڅ کې یې د دوي د سیمه ییزه ستونزو او مشکلاتو د له منځه وړلو په باب لازم تصمیمونه ونیول . غونډه د دعایې په لوستلو سره پایته ورسیده .**

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

تبصره

د ناکامو ترخو تجربو تکرار

د احمد شاه مسعود او د هغه د بهرنیو بادارانو د یوه مشترك پلان له مخې تصمیم نیول شوي چې نژدې اوزره افغاني کورنې د کولاب سرحدي سیمې ته انتقال کړي .

ددغو کورنیو د غړیو له انتقال څخه د مسعود موخه داده چې هغوي په فکري او عقیدتي لحاظ په افغانستان کې د یوه سوچه شرعي نظام په خلاف وروزي.

موږ پدې خبره څه نه وایو چې ښاغلي مسعود ولې پدې اقدام لاس پورې کړې ځکه هغه د خپلو بادارانو په دستور د خپل ملت او هیواد د لاتباهې لپاره ډیر داسې پروګرامونه عملي کړي دا چې هغو تر کومه حده او څرنګه نتیجه ورکړې هغه بیله خبره ده . خو اصلي ټکی دا ده چې مسعود څرنګه ځان ته ددې صلاحیت ورکوونکی د روسانو لخوا ځوریدلې، کړیدلې او یتیمان شوي افغانان د هغوي قاتلانوته ورو سپاري .

شاید ددې کورنیو په غړیو کې به ډیر داسې کسان وي چې د هغوي پلرونه ورونه او یا زامن د روسانو لخوا په شهادت رسیدلي وي، او کورونه به یې وران شوي وي خو نن د هغوي وارثین د انتقام په ځای بیرته د هغوي د پلرونو وروڼو او زامنو قاتلانو ته د نورو افغانانو د وژلو او بې کوره کولو لپاره پلاس ورکول کیږي .

له مسعود نه مخکې شل کاله پخوا برغلګرو روسانو هم پنځوس زر افغاني ماشومان ددې هدف لپاره مسکو ته ولیږل تر څو هغوي په الحادي او کمونستي عقیده باندې سمبال کړي افغاني هویت او شخصیت یې ورختم او بیرته راتګ په وخت کې د خپلو شومو اغراضو د لاس ته راوړلو لپاره استخدام کړي .

د ښاغلي مسعود دغه اقدام ددې څرګندوي دي چې نور د افغانستان په داخل کې افغانان د هغه جابرانه او امرو منلو ته تیار ندي هغه غواړي چې د ځان په څیرد اجانبو د لاربښوونو او فرمایشونو د عملي کولو لپاره د پردیو په لمن کې خلك تربیه کړي، مسعود د قدرت او چوکۍ نشې دومره له سده ایستلی چې د روسانو د نورو اجیرانو، تره کي، امین، ببرك ... انجام ته یې هیڅ فکر نرسیږي.

هغوي هم په افغانستان کې د همدې هدف لپاره روزل شوي ؤ د خپلو بادارانو لخوا وریاندې زیاته سرمایه ګذاري شوي وه او په افغانستان کې یې د چاروکې او حکمرانۍ لپاره روسانو پوره پوځي قوت تر شا ولاړ ؤ خو د هغو انجام تولو افغانانو ولیدو چې هر یو خپله د روسانو لخوا د ثور د کمونستي انقلاب تر مصالحو قرباني شو .

د مسعود د دالومړي حل ندي چې د خپلو بادرانو اوامرو ته لبیك واي بلکه تر دې له مخه یې له هغوي څخه د خپل دردیدلي ملت د لاکړولو په منظور د لوټا وژونکې توغندي تر لاسه کړي او د هغوي د فرمایشونو د ښه عملي کولو په منظور آن تر تاجکستان پوري ځان ستړی کړ، شاید د خپلو اجنبي بادرانو د راضي کولو لپاره به نوري هم ډیرې هلې ځلې وکړي خو موږ ته تیرو تجربو دا په اثبات رسولې چې هره هغه بهرنۍ طرحه چې د بهرنیانو لخوا په افغانانو باندې تحمیلیږي له شکست او رسوایي نه سوا به بله کومه نتیجه ونلري.

د افغانانو ځوارلس کلن مقدس جهاد پدې منظور ؤ چې د وطن ځمکنۍ تمامیت حفظ کړي په هغه کې الهي نظام نافذ کړي او تیري کوونکي د خپلو ناروا اعمالو په جزا محکوم کړي . خود مسعود په څیر ډیرو داسې متحرقو شخصیتونو د افغان مجاهد ملت ټول مقدس افتخارات تر خپل اقتدار قربان کړل ځینو روسانو ته برائت ورکړ او ځینې یې اوس هم چوپړته متلاټړلي ولاړ دي.

د افغانستان اسلامي امارت هیڅ چانه ددې اجازه نه ورکوي چې د بانورو افغانانو اسلامي او افغاني شهامت ته په سپکه وګوري که څوك بیا هم ازمایل شوي بیا ازمایل غواړي نو لومړي دې خپل انجام د مضمحل شوي کمونیزم په آینه کې وګوري او بیا دې پداسې عجولانه اقدام **باندې لاس پورې کړي .**

اهالي متدین ...

المتنفعه امارت اسلامي به تفصیل صحبت نموده از عملکرد هاي اهالي آنها در امر انفاذ شریعت و سهمگیري در تأمین صلح و امنیت ابراز قدر داني نمودند. بالمقابل محترم مولوي سید رسول و محترم مولوي حضراد دو تن از متنفذین آنجا ضمن صحبت هاي شان به هرگونه همکاري بي دریغ شان بخاطر تحکیم نظام اسلامي و طرد دسایس دشمنان مردم افغانستان با امارت اسلامي افغانستان تاکید ورزیدند و همچنان سرپرست وزارت شهدا و مهاجرین از بخش هاي مختلف امور تدریسي مدرسه هاي علوم دیني امام ترمذي رح و ابو ذر غفاري «رض» در آن ولسوالي دیدن نموده طالب العلمان **و استادان مدرسه مذکور را متوجه رسالت هاي اسلامي شان ساخت .**

کار باز سازي ...

سرحد وعده داد که در آینده نزدیك سامان و وسایل طبي مورد نیاز شفاخانه متذکره را موسسه مذکور کاملاً آماده مي نماید.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdul Rahim Saqeb,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331
Postal Add: U.P.O. Box # 1057 Peshawar - Pakistan
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press